طلوع افغان

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، سه شنبه ۱۳/محرم الحرام/ ۱۴۴۵ هـ ق، ۱۰/زمری/ ۱۴۰۲ ل کال – ګڼه (۳۰)

Tuesday-1-August-2023 Issue 30

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: زما پر امت يوه داسي زمانه راتلونکې ده، چي سړي ته کوم مال په لاس ورځي، نو دا پروا به يې نه کوي، چي دا حلال دئ، که حرام.

«رواه البخاري»

د بریتانیا عالمانو په بېلابېلو برخو کي د اسلامي امارت له پرمختګونو او لاسته راوړنو خوښي څرګنده کړه

د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت سرپرست شيخ الحديث مولوي عبدالحکيم شرعي له يو شمېر ديني عالمانو سره چي له بريتانيا څخه افغانستان ته راغلي، وکتل.

په دې کتنه کي چي د عدليې وزارت په مقر کي جوړه سوې وه، د عدليې وزارت سرپرست يادو ديني عالمانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، هغوی ته د اسلامي امارت د نظام په اړه معلومات وړاندي کړل.

هغه همدارنګه د عدليې وزارت د بېلابېلو برخو د ندو او مسئوليتونو او د اسلامي امارت له بريا څخه وروسته د قانون جوړوني په برخه کي د ياد وزارت پرمختګونو په اړوند، هغوی ته معلومات ورکړل او د يادو ديني عالمانو پوښتنو ته يې هم جوابونه وويل او زياته يې کړه، د نړۍ ټول مسلمانان سره ورونه دي او مسئوليت لري، چي په افغانستان کي د اسلامي امارت له نظام څخه ملاتړ وکړي او خپل مسئوليت ادا کړي.

په ورته وخت کي يادو ديني عالمانو په بېلابېلو برخو کي د اسلامي امارت له پرمختګونو او لاسته راوړنو څخه خوښي څرګنده کړه او وويل، هغه څه يې چي له افغانستان څخه بهر اورېدلي او هغه څه يې چي له نژدې ليدلي، ډېر زيات توپير سره لري.

هغوی ژمنه وکړه، چي د افغانستان عيني واقعيتونه او هغه څه چي يې له نژدې ليدلي، په بشپړي امانتدارۍ سره به يې بهر ته ولېږي.

د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال: کوربه هيوادونه دي له افغان کډوالو سره د نړۍ والو قوانينو مطابق چلند وکړي

د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال شېر محمد عباس ستانکزي په خپل کاري دفتر کي د افغانستان له پاره د ترکيې له سفير جهاد ارګيناى سره په کتنه کي د افغان کډوالو او راستنېدونکو د ستونزو په اړه خبري کړي دي.

په کتنه کي د دواړو هيوادونو د ديني، تاريخي او کلتوري مشترکاتو په اړه، د دواړو هيوادونو ترمنځ، پر سياسي او قونسلي اړيکو هم خبري وسوې.

د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال وويل، په افغانستان کي د څه باندي څلورو لسيزو جګړو له امله زيات شمېر افغانان ګاونډيو، سيمه ييزو او اروپايي هيوادونو ته کډوال سوي دي او په خبره يې: "موږ د افغان کډوالو له کوربه هيوادونو مننه کوو او له هغوی غواړو، چي له افغان کډوالو سره د نړۍ والو قوانينو مطابق چلند وکړي."

په پای کي دواړو لورو هوکړه وکړه، چي په نژدې راتلونکي کي به د افغان کډوالو او راستنېدونکو د ستونزو د حل له پاره عملي ګامونه پورته کړي.

د سوونو تنو زده کوونکو څخه د کانکور ازمايښتي آزموينه واخيستل سوه

د کندهار په اطلاعات او فرهنګ رياست کي د سوونو تنو زده کوونکو څخه د کانکور ازمايښتي آزموينه واخيستل سوه.

د ځوانانو چارو آمريت او د بېنوا کانکور مرکز له لوري په ګډه، د شاوخوا ۳۰۰ تنو له ۱۲ ټولګيو فارغ سوو زده کوونکو څخه د راتلونکي کانکور آزموينې ته د آماده ګۍ په هدف د دوشنبې په ورځ ازمايښتي آزموينه واخيستل سوله.

په همدې مناسبت په جوړو سوو مراسمو کي د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني ځوانانو ته په خپلو خبرو ۴مخ

د افغاني توليداتو يو نندارتون له هيواده بهر جوړېږي

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت په قزاقستان هيواد کي د افغاني توليداتو د نندارتون جوړولو خبر ورکړی دئ.

دغه وزارت د ۱۴۰۲ ل کال د زمري مياشتي پر نهمه نېټه په يوه خبرپاڼه کي ويلي، چي د افغانستان او قزاقستان د خصوصي سکټورونو ترمنځ، د هيواد د توليداتو او سوداګريزو اړيکو د نندارتون د جوړولو له پاره د همږغۍ غونډه د دې وزارت د سرپرست نورالدين عزيزي په مشرۍ جوړه سوې وه، چي په کښې قزاقستان ته د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي، د خصوصي سکټور د غړو د سفر، د سفر پر پلانونو، غړو ته د وېزو د ورکړي، د دواړو هيوادونو ۴مخ

په بېلابېلو ولايتونو کي د سړکونو د بيارغولو چاري پيل سوي دي

د نورستان د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست مسئولينو ويلي، د دې ولايت په مرکز او نورګرام ولسوالۍ کي د ۷,۵ کېلو متره سړکونو د ۴,۵ ميليونو افغانيو په لګښت، د بيارغولو چاري پيل سوي دي.

د ياد ولايت د کلو، د بيارغوني او پراختيا رئيس مولوي احسان الله احمد د باختر آژانس سيمه ييز خبريال ته ويلي، ياد سړکونه د يونېس مؤسسې په مالي ملاتړ او د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست تر چتر لاندي ۴,۵ ميليونو افغانيو په لګښت بيارغول کېږي.

د مسئولينو په خبره، د مرکز پارون اړوند چتراس کلي سړک د ۶,۵ کېلو مترو په اوږدوالي او د ۴مخ

له يوې کورنۍ سره د سرې مياشتي رياست له لوري مرسته وسوه

په کندهار کي له هغي کورنۍ سره مرسته وسوه، چي څوورځي مخکي يې د دېوال د چپه کېدو په پېښه کي اووه تنه غړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

په جنوب لوېديځه حوزه کي د سرې مياشتي ټولني مطبوعاتي مسئول مولوي اسلامپال ويلي، ياده مرسته د کندهار د سرې مياشتي رياست له لوري تر سره سوې، چي په کښې خوراکي او غير خوراکي توکي شامل وو.

د اسلامپال په خبره، په ياده مرسته کي اوړه، وريجې، بوره، غوړي، لوبيا او د خرما ترڅنګ، صابونونه، سطلونه، توسان او نور بېلابېل توکي شامل ول.

د يادوني وړ ده، چي د سرې مياشتي رياست له لوري دې ته ورته نوري مرستي هم له غريبو کورنيو سره سوي دي.

د عاشورا ورځي مراسم په ډاډمنه فضا کي تر سره سول

د جمعې ورځ، چي د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د محرم الحرام مياشتي لسمه نېټه، د عاشورا ورځ وه، په کندهار کي د اهل تشيع هيوادوالو له خوا د ځانګړو مراسمو په لړ کي ولمانځل سوه او د يادو مراسمو له پاره په کندهار ښار او د هيواد په يو شمېر ولايتونو کي کلک امنيتي تدابير نيول سوي وو.

د امنيې قوماندانۍ وياند حافظ صابر ويلي، چي د يادو مراسمو امنيتي تدابيرو د نيولو له پاره پوليسو او استخباراتي ځواکونو د ښار په بېلابېلو برخو کي مؤقتي چک پاينټونه او ګزمې درلودې.

امنيتي مسئولينو له وړاندي لا د پوره امنيت ډاډ ور کړی و، چي له نېکه مرغه کومه امنيتي پېښه رامنځته نه سوله.

د ګمرک رئيس: د اسلامي امارت مسئولين سوداګرو ته ځانګړې پاملرنه لري

مولوي سفر محمد سحر د يکشنبې په ورځ د کندهار د سوداګرۍ او پانګوني خوني او همدارنګه د اقتصادي شورا اړوند له يو شمېر سوداګرو سره په ليدنه کي وويل، ټولو سوداګرو او صنعت کارانو ته د اسلامي امارت مسئولين ځانګړې پاملرنه لري او په ډاډه زړه هر څوک کولای سي، چي دلته پانګه اچونه وکړي.

سحر له سوداګرو وغوښتل، ترڅو له امارتي ادارو سره په پوره همږغۍ او تفاهم د لا ښې پانګوني او پرمختګ له پاره مثبت ګامونه واخلي.

ځيني برېښنايي تجهيزات ترميم او يو شمېر نوي نصب سول

د کندهار حوزوي برېښنا رياست يو تن مسئول حاجي محمد ارشاد احمدي د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د برېښنا حوزوي رياست تخنيکي او عملياتي څانګي له لوري د شبکې اصلاح او منظمي برېښنا رسوني په لړ کي د مرکزي شبکې اړوند، په بېلابېلو سيمو کي د مېټر بکسونو، فيوزانو، مختلف النوع ټمپلونو په ګډون، يو شمېر تجهيزات نوي نصب سول.

د سختي ګرمۍ له امله يو ځوان خپل ژوند له لاسه ورکړ

د کندهار ولايت امنيې قوماندانۍ وياند حافظ صابر د يکشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته وويل، د سختي ګرمۍ له امله يو ځوان د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ اړوند، په قلعه ښامير سيمه کي خپل ژوند له لاسه ورکړی دئ.

هغه د ياد شخص په اړه نور جزئيات ور نه کړل.

د يادولو وړ ده، چي په کندهار کي د چنګاښ مياشت ډېره ګرمي وه او دا مهال هم د ګرمۍ سخته څپه روانه ده، چي د تودوخي درجه په کښې شاوخوا ۴۵ ته هم رسېدلې ده.

دنيا ته ميلان مو دوکه کوي

شاه محمود "برى"

تر مرګ مخکي پوه سه چي نړۍ د اصلي اوسېدني ځای نه دئ، د هغو خلکو غوندي مه کېږه، چي له قارون سره يې د هغه د مال له امله حسد وکړ، خو کله چي مځکي هغه او د هغه کور کش کړل، دوی په حقيقت وپوهېدل، نو تاسو مخکي لا د هوښيارۍ څخه کار واخلئ.

الله (ج) په سورة الکهف کي فرمايي:

ژباړه: مال او زامن خو د دنيوي ژوند ښکلا ده.

دنيا په مال درلودلو سره ښايسته ده،

او په اولاد درلودلو سره خوږه ده،

خو په آيت شريف کي د تعبير دقت ته ګوره: هلته شتمني او زامن د دنيوي ژوند ښکلا بلل سوې ده، قيمت يې نه.

شيطان کوښښ کوي، چي د دنيا په شتمنيو، اولادونو، زور او قوت، نوم او نښان سره دوکه درکړي.

لاندېني مثالونو ته مو فکر را اړوو:

۱ – د نوح (ع) څخه د هغو زړو کلونو په اړه پوښتنه ځني وکړه، چي د مځکي پر سر يې تېر کړي دي.

درته وبه وايي، چي ژوند که هر څومره اوږد سي، بيا هم لنډ دئ.

۲ – د سلېمان (ع) څخه د شتمنۍ په اړه وپوښته، چي له مشرقه تر مغربه يې پر ټوله نړۍ پاچهي درلودله، پېرانان، انسانان، مرغان او هر څه ورته مسخر ول.

درته وبه وايي، چي انسان که هر څومره شتمن سي، بيا هم بې وزله دئ.

۳ – د حضرت داؤد (ع) څخه د هغه د ځواک پوښتنه وکړه، هغه چي اوسپنه هم ورته ويلي سوې وه، زغري او د جنګ نور سامان به يې ځني جوړول،

خبر به دي کړي چي انسان که هر څومره زورور سي، بيا هم کمزورى دئ.

۴ – د فرعون څخه د هغه سمندر په اړه پوښتنه وکړه، چي غرق يې کړ.

درته وبه وايي چي يوازي د مالګي خوند کتل يې د پاچهۍ ټول خواږه ور پيکه کړل.

۵ – نمرود څخه د هغي غوماشي په اړه وپوښته چي د پزي له لاري يې و دماغ ته ننوتله.

درته وبه وايي، چي د څپليو د ويشتلو سپکاوي هيڅ عزت ور پرې نه ښاوه.



د طلوع افغان خبري

دولتي اداري ملت ته مسئولي دي او د هري کړني حساب ور کوي

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره هیواد په بېلابېلو برخو کي د پام وړ پرمختګونه لرلي دي، چي دغه ډول پرمختګونه په اوسنیو کمو امکاناتو خورا ډېر دي، د دې پرمختګونه یو لوی لامل دادی، چي دولتي مسئولین د مسئولیت احساس لري او د دې هیواد د بیارغوني قوي اراده لري.

تازه په مرکز کابل کي ملت ته د حساب ورکوني تر نامه لاندي یو پروګرام پیل سوی دئ، چي په نوبتي شکل د وزارتونو مسئولین راځي او د خپلو کړنواو پرمختګونو په اړه راپور له رسنیو سره شریکوي.

دا چاره اصلاً د دې ښکارندویه ده، چي د افغانستان اسلامي امارت ټولي اداري ملت ته جواب ویونکي دي او د خپلو کړنو په اړه یې خبروي.

که دولت له خپلو کړنو عام ولس خبر کړي، هغوی ته د سالم نقد اجازه ورکړي، د هغوی غوښتني او ضرورتونه په نظر کي ونیسي، په دې ډول سره د دولت او ملت ترمنځ اعتماد او باور لا زیاتېږي، خو که چیري دولت د خپلو فعالیتونو او پرمختګونو په اړه ولسونو ته معلومات ورنه کړي او ولس په بې خبري کي واقع کړي، نو ولس به پر خپل حکومت بې اعتماده سي، که څه هم چاري به ډېري مثبتي رواني وي، خو صرف په دې خاطر چي ولس به د مثبتو چارو څخه نا خبره وي، نو په همدې خاطر به د دولت پر کړنو شکمن وي، چي په دغسي وضعیت کي بیا دښمن ډېره ناوړه استفاده کوي.

خپل پرمختګونه رسنیز کول، یو ډېر اړین فکتور دئ، که دولت غواړي په رښتیا د خلکو په زړونو کي ځای ولري، نو خپل پرمختګونه او لاسته راوړني دي رسنیزي کړي، نن ورځ رسنۍ پر روانو چارو او سیاستونو ډېر اغېز لري، نو په همدې خاطر د رسنیو له لاري د ولسونو راوېښول او د خپلو پرمختګونو په اړه یې خبرول ډېر اړین بریښي.

په نوره نړۍ کي ټولو پرمختللو هیوادونو خپل ولسونه د رسنیو په مټ کنټرول کړي دي، د خپلو ټولو مثبتو کړنو څخه یې خبر کړي دي، نو په همدې خاطر ولس هم د دولتونو تر شا کلک ولاړ وي او پوره اعتماد وربانـدي لري.

زموږ خلک که څه هم د اسلامي امارت پر مسئولینو خوشبین دي او دا باور لري، چي دا خلک به هیواد سم لوري ته رهبري کړي، خو بیا هم که دولت د خپلو کړنو حساب وخت پر وخت ورکړي او خپلي لاسته راوړني رسنیزي کړي، نو په اعتماد جوړونه کي لا ډېره مرسته کولای سي.

اداره

د اسلامي شریعت په رڼا کي د حسد د مخنیوي لاري- چاري

لومړی څارن محمد جاوید "حبیبي"

اوله برخه

حسد پېژندنه: حسد په لغت کي د یو انسان هیله چي له بل څخه نعمت او فضیلت سلب کړي او په اصطلاح کي: له محسود څخه د نعمت زوال او حاسد ته یې انتقال له حسد څخه عبارت دي.

د حسد د مخنیوي لاري- چاري: د حسد د مخنیوي لاري- چاري ډېري دي، له هغو څخه به دلته یو څو ذکر سي.

الله (ج) ته پناه وړل: د حاسد له شر څخه الله (ج) ته پناه وړل، له چا څخه چي الله (ج) ته څوک پناه وړي، الله (ج) یې دپناه دعا اوري او له کوم شي څخه چي پناه ور وړل کېږي، په هغو پوه دئ او الله (ج) د سورة الفلق فرمایي:

ژباړه: ووایه زه پناه غواړم د سبا په رب د هر هغه څه له شر څخه چي هغه پیدا کړي دي او د شپې د تروږمۍ له شر څخه چي کله هغه خپره سي او په غوټو کي د پوکوونکو (نارینه وو یا ښځو) له شر څخه او د حسد کوونکو له شر څخه چي حسد کوي.

له الله (ج) څخه بېره درلودل: له الله (ج) څخه بېره درلودل، د اوامرو او نواهیو رعایتول یې، څوک چي له الله (ج) څخه وبېرېږي، الله (ج) د هغه ساتنه کوي او بل چا ته یې نه سپاري، الله (ج) د سورت ال عمران په ۱۲ – آیت کي فرمایي:

ژباړه: د "هغو هیڅ دسیسه ستاسي پر خلاف اغېزمنه کېدای نه سي." په دې شرط چي تاسي له صبر څخه کار واخلئ او له الله څخه د بېرېدو سره عمل وکړئ.

پیغمبر (ص) ابن عباس (رض) ته فرمایلي دي: ژباړه: د الله (ج) د اوامرو او نواهیو ساتنه کوه، الله (ج) به دي د دنیا له ستونزو څخه وساتي، ته به یې خپل مخکي وموميې (په دې وخت کي به یې ته داسي وموميې چي ګویا دی دي مخکي حاضر دئ.)

الترمذي

صبر کول: د دښمن پر آزار او اذیت صبر کول، له جنګ څخه یې ډډه کول او چا ته یې شکایت نه کول، دا پر دښمن د کامیابۍ غوره لار ده. پر محسود د حسد کوونکي تېری کول، شخص ته قوت وربخښي او د دې دا جنګ په حقیقت کي له خپل ځان سره جنګ دي، الله (ج) په سورة الحج کي فرمایلي دي:

ژباړه: او څوک چي غچ واخلي، هماغسي لکه چي له هغه سره وسول او بیا پر هغه زیاتی وسي، نو الله به له هغو سره هرومرو مرسته وکړي.

له ګناهونو توبه ایستل: الله (ج) ته له هغو ګناهونو څخه توبه کول، چي د دې ګناهونو له امله دښمنان پر مسلط سوي دي.

الله (ج) د سورة الشوری په ۳۰ نمبر آیت کي فرمایلي دي:

ژباړه: پر تاسو چي هر مصیبت راغلی، ستاسو د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دئ او له ډېرو ګناهونو څخه هغه همداسي تېرېږي.

د پورتنیو آیتونو په لومړي آیت کي الله (ج) فرمایلي دي: کوم مصیبت چي تاسو ته رسېږي، هغه ستاسو د عملونو له امله وي او په دوهم آیت کي هم صحابو ته خطاب کوي، دا کوم کړاو چي پر ستاسو د احد په غزا کي راغی، هغه هم ستاسو له خوا منځ ته راوړل سوی دئ، بناءً د ګناه په سبب سړي ته ضرر رسېږي او د خلاصون وسیله یې توبه ایستل دي، لکه: پیغمبر (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: له ګناه څخه رښتینی توبه ایستونکی داسي دئ، لکه: هیڅ ګناه چي یې نه وي تر سره کړې.

صدقه او احسان کول: د وس مطابق خیرات او نېکي کول، د بلاوو په دفع کولو او د انسان په تګلاره کي ډېر اغېز لري، دا لوړه درجه صرف او صرف د نېکو کارونو له پاره ده، الله (ج) د سورة ال عمران په ۱۳۴ نمبر آیت کي فرمایلي دي:

ژباړه: د هغو له پاره چي د بډایۍ او بې وزلۍ په دواړو حالتونو کي مال مصرفوي، غوسه خوري او نورو خلکو ته معافي کوي، داسي خلک د خدای (ج) ډېر خوښ دي.

په دې آیت شریف کي الله (ج) د متقیانو صفتونه ذکر کړل، چي په بډایۍ او بې وزلۍ په دواړو حالتونو کي مال مصرفوي، د مال په نفقه کولو سره الله (ج) انسان له بخل، حسد او نورو ناوړه اخلاقو څخه ساتي، ټولنیزي اړیکي ور سره پیاوړي کېږي او بیا یو او بل ته ضرر نه رسوي.

همدارنګه الله (ج) د سورة فصلت په ۳۴ – ۳۶ آیتونو کي فرمایلي دي:

ژباړه: او اې پیغمبره! نېکي او بدي یو ډول نه دي، ته د بدۍ مخنیوی په هغي نېکۍ سره وکړه چي هغه ډېره ښه وي، ته به وګورې چي له تاسو سره چي د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دي لکه صمیمي دوست ګرځېدلی دئ.

دغه صفت نه په برخه کېږي، مګر هغو خلکو ته چي صبر کوي او دغه مقام په برخه کېږي، مګر هغو خلکو ته چي د غټې برخي خاوندان دي او که ته د شیطان له خوا کوم لمسون محسوس کړې، نو له الله (ج) څخه پناه وغواړه، هغه هر څه اوري او پوهېږي.

په دې آیت کي الله (ج) فرمایلي دي: نېکي او بدي یو ډول نه دي، انسان باید د بل بدي کړني او بدي ویناوي په احسان او نېکۍ سره دفع کړي.

ګټه او تاوان د الله (ج) له لوری ګڼل: د حسد کوونکي حسد د الله (ج) له اجازې پرته چا ته ګټه او تاوان نه سي رسولای او یوازي الله (ج) له انسان څخه مصیبت دفع کوي او الله (ج) د سورة یونس په ۱۰۷ نمبر آیت شریف کي فرمایي:

ژباړه: که الله تا په کوم مصیبت اخته کړي، نو په خپله له هغه پرته بل څوک نسته چي دا مصیبت در څخه لیري کړي او که هغه ستا په اړه د کومي ښېګڼي اراده وکړي، نو د هغه د فضل مخ اړوونکی هم څوک نسته.

عبدالله بن اعباس (رض) ته پیغمبر (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: او په دې پوه سه، که دا ټول امت د دې اتفاق درته وکړي، چي تا ته په یو څه کي ګټه ورسوي، هیڅ ګټه نه سي در رسولای، پرته له هغي ګټې چي الله تعالی درته لیکلې وي، که دوی ټول د ضرر رسولو اتفاق درته وکړي، تا ته ضرر نه سي رسولای، پرته له هغه چي الله تعالی تا ته لیکلی ویي، قلمونه د (احکامو له لیکلو) څخه پورته سوي او صحیفې وچي سوي، په (لوح محفوظ کي څه لیکل سوي دي.)

بناءً حاسد ته حسد کول، هیڅ ګټه نه سي رسولای او محسود ته هیڅ ضرر نه سي رسولای او نه مال ځني اخیستلای سي، بلکي کوښښ وکړئ چي د دې ناوړه اخلاقو څخه ځانونه وساتئ.

نور بیا...

"نشه مي د زړه غم یو څه راکم کړي"

احمدولي اڅکزی

فکر نه کوم چي داسي یو افغان دي ژوند کوي، چي پر زړه دي یې د پرهر سدا بهار زخم نه وي راشین، خو دا په دې معنی نه ده چي هر یو د بې خونده هندي فلمونو په تقلید «خپل غم په نشه کي ډوب» کړي. هیڅوک په اوله ورځ شرابي، هېروئیني، غمزه یي یا د بل شي عملي سوی نه دئ، چا چي سګرېټ او نسوارو ته لاس واچاوه، معنی دا چي د نشه یي کېدو د نړۍ دروازه یې ځان ته خلاصه کړه او دی ور داخل سو، بیا نو دا اکثره نشه یان یا پر هغه لوري په درب ور روان کسان ادعا کوي چي ګواکي هر څه یې په کنټرول کي دي او وایي: «نشه مي د زړه غم یو څه را کم کړي، بېخي سپک– سپک یې اخلم.» خو خبر نه وي چي یو وخت یې لا د نشه کېدو او به یوه نېزه تر سر پورته سوي وي.

له بده مرغه دا ځیني افغانان آن دلته په خارج کي د سوسیال په پیسو لا هم په نشو اخته سوي دي. بیا نو په نشه کي ټیک– ټاکونه او فېسبوکي ریلز پر ریلز ویډیوګاني هم پسي درته خپروي او ایکټونه داسي کوي، لکه د فلاني بابا د له واک څخه لیري کېدو غم چي دا حال پر راوستلی وي، یا د وطن میني.

دلته نو بیا نورو بې کارانو ورته تبصرې لیکلي وي: «موږ دي نه و در بللي.» ځیني فکر کوي چي په دې کارونو اوسني واکمنان راوپاروي، د ځان په شرمولو غواړي «مقاومت» وکړي!!

له وطن سره مینه داده چي څوک خپل مور، پلار، وروڼه، خویندي، خپلوان، دوستان، مېرمن او کوچنیان په شرمولو وشرموي، څوک چي په رشتیا پر وطن غیرت کوي، نو اول خو دي له حکومتي یا غیر حکومتي خیرات او زکات څخه خپل د ځان د خلاصولو له پاره زده کړه، کار– روزګار او نور مصروفیات ولټوي. بیا حد اقل دا خپل مور، پلار او مېرمن، کوچنیان خو دې تر یو ځایه ورسوي، یوه د عزت ګوله ډوډۍ دي ورته پیدا کړي. یو پوره نشه یي یا نیمه نشه یي یا پر هغه لاره ور روان نشه یي هیڅکله هم نه پر ځان، نه پر کورنۍ او هیڅکله هم پر وطن غیرت نه سي کولای. بل په نشه کي هیڅ د غیرت خبره له سره لا نسته.

ګرانو ځوانانو! که سګرېټ، نسوار یا بله په اصطلاح سپک عادتونه لرئ، نو که رشتیا د خپلي روغتیا، جېب او کورنۍ غم در سره دئ یا وي، پرې یې ږدئ.

هغه ځوانان چي هیڅ عادت او اعتیاد نه لري، لس کېلو متره دي له هغو خپلوانو، دوستانو او ملګرو څخه لیري ګرځي، چي کوچني یا لوی اعتیادونه لري.

هغه ځوانان چي «سپک– سپک» یې وهي او «هر څه یې تر کنټرول لاندي دي» هغوی دي یو وار د اعتیاد په تړاو تېوري ځان پوه کړي او د خدای (ج) په لحاظ دي پر ځان، کورنۍ او پر دا در پر دره هیواد او ولس رحم وکړي او د نشې په پرېښولو سره دي «خپل غیرت» معلوم او ثابت کړي.

نشه یي زوی – نه زوی!

د واده او ازدواج د اړيکي په اړوند؛ د ځينو ځوانانو ناسم تصور!

ليکوال: مولوي محبوب شاه "ساجد"

په تېره شل کلنه اشغالي دوره کې د پردي کلتور د غلبې، د بې حيا فلمونو او سريالونو د کتلو چي دلته يې ځينې مزدوري رسنۍ د ارزښتونو د پايمالولو له پاره خپروي، نتيجه داده چې ډېري نوري اخلاقي ستونزي يې را منځته کړي دي. يوه ستونزه دا هم ده چې زموږ ځيني ناخبره ځوانان د واده د اړيکي په هکله ناسم تصور ولري.

دا ناسم تصور څه دئ:

متأسفانه زموږ ځيني ځوانان د واده اړيکي ته خورا په سطحي نظر ګوري، دوی فکر کوي او يا دا فکر د رسنيو له لاري ورکول کيږي، چې واده يوازي د جنسي غريزې د سړولو، شهرت ته د رسېدلو، له مالدارو او واسطه دارو خلکو سره د شناخت يوه رابطه ده او بس. حال دا چې د واده قضيه ډېره ستره شرعي، قانوني، انساني، ټولنيزه او اخلاقي اړيکه او قضيه ده.

د واده اړيکه څه ده:

واده د دوو انسانانو او زوجينو (نارينه او ښځينه) ترمنځ هغه فطري، شرعي، قانوني، انساني او اخلاقي دوامداره او د ژوند تر پايه اړيکه ده، چي اساس او بنسټ يې د زوجينو ترمنځ، واقعي محبت، رښتيني دوامداره مينه، رحمت، مودت، بشپړ متقابل احترام، امانتداري او د خپلمنځي حقوقو په بشپړ توګه مراعات دئ.

دا هغه دائمي ملګرتيا ده چي ټول پټ او ښکاره په کښي شريک وي، غم، ښادي، مالداري او بې وزلي. لنډه دا چي هر څه به يو ځای ګالل کېږي، دلته به متقابله دائمي وفاداري او امانتداري موجوده وي.

د نارينه او ښځينه ترمنځ واده کول، د اسلامي ټولني لومړنۍ ډېره ده چي دا ډېره بايد ډېره سنجيده، ټينګه او د اصولو مطابق کښېښوول سي، چي په پايله کي يې د اصولو او ضوابطو مطابق يوه جوړه، صالح، متعهد، ايمانداره، مهذبه او منظمه ټولنه را منځته کېږي، دا اړيکه به د دين د لارښوونو مطابق ټينګېږي او د دين د لارښوونو مطابق به تر مرګه دوام پيداکوي، دا اړيکه به د صالحو اولادونو د زېږون، د هغوی د سالمي او اسلامي تربيې، د انساني نسل د ډېربښت او ټولني ته د ايماندارو، مخلصو، با علمو، بااخلاقو اولادونو د وړاندي کولو له پاره وي.

په دې دائمي اړيکه کي به د زوجينو د پاره دائمي سکون او آرام موجود وي، که چيري د زوجينو ترمنځ تفاهم، خپلمنځي احترام، امانتداري او سکون موجود نه وي، نو دغه اړيکه د يو ناکامه او مؤقتي قرارداد څخه پرته بل څه نه دي چي هدف يې يوازي يو د بل څخه د جنسي ګټي اخيستني پوره کېدل دي.

ګرانو ځوانانو! د شک پرته د واده په اړيکه کي په مشروع طريقه جنسي غريزه هم خړوبيږي چي اجر او ثواب هم له ځان سره لري، مګر د واده ټول هدف، دار و مدار، يوازي د جنسي ګټي اخيستني پر محور نه را څرخي، څوک چي د واده سپېڅلي او دائمي اړيکي ته يوازي په دې محدود نظر ګوري، هغوی د خپل ژوند جوړښت ته نور اهميت نه ورکوي، حتی خيانت هم کوي، په ژوند کي يې سکون او اطمينان موجود نه وي.

نو!

– د اسلام له نظره د واده په فلسفه ځان پوه کړئ!

– په انتخاب کي شرعي معيار په نظر کي ونيسئ!

– په انتخاب کي د احساساتو او عواطفو پر ځای، د عقلمندۍ څخه کار واخلئ!

– د مشرانو، علماوو او پوهانو د تجربو څخه کار واخلئ!

– خپله خوښي او انتخاب ستاسو شرعي، قانوني او انساني حق دئ، خو مشوره حتمًا وکړئ!

– پام کوئ! ډېر احتياط کوئ! ډېر زيات چې د ژوند له ملګري سره خيانت و نه کړئ او د هغه\هغې څخه پرته بل چاته و نه ګورئ، مينه، محبت او عشق بايد يوازي ستاسو ترمنځ وي او بس. دلته به نو د ژوند څخه حقيقي خوند واخلئ!

په اسلام کي د مال او مالکيت حکم

پوهيالی اصلاح الدين "سالارزی"

اوله برخه

لنډيز: له هغه وخته چي په ابتدا کي انسان د ښکار څخه کار ته مخه کړله او له زراعت سره آشنا سو، نو ټاټوبي يې پيدا کړ، د مال غونډولو او ساتلو په فکر کي سو، د مالکيت احساس راپيدا سو او وده يې وکړه، د مال مينه کرار – کرار زياتېدله او د انساني حرص ستر ګي ورځ په ورځ وړي کېدلې. مال که له يوې خوا د انسان حاجتونه او ضرورتونه پوره کول، نو له بلي خوا يې حسادتونه او رقابتونه راپارول او د مال پر سر دښمني او جنګونه شروع سول، په مال کي د خير او شر دواړه طرفونه محسوس سول.

له مېلاد څخه پنځه سوه کاله پخوا د مال او مالکيت په اړه فلسفي بحثونه شروع سول. مال ته بد وويل سول او د مالکيت پر ضد د مبارزې فکر پيدا سو، افلاطون په واضح ډول د اجتماعي چارو د کارکوونکو په مورد کي د مالکيت د لغوه کولو آواز پورته کړ او مسيحي دين مال د بشري جامعې د فساد منشا او د شرارت تومنه وګڼله.

کليدي کلمې: مال، مالکيت، اسلامي حکم:

سريزه: انسان چي لړغوندي په څه پوهېدلی دئ، د مال او مالکيت لرلو او ډېرولو فکر او مينه يې په زړه او دماغ کي غځوني کړي دي. د اسلام سپېڅلي دين ځانګړی ملکيت ثابتوي او هيڅ رنګه حد ورته نه ټاکي، په اسلام کي د ملکيت حق يوه اساسي پديده ده، چي په اسلامي ټولنه کي ژوري ريښې لري او د تل له پاره د اسلامي ټولني لازمي جز دئ. حلالو، حرامو او د اسلامي اخلاقي ارزښتونو په چوکاټ کي په ټولو اقتصادي فعاليتونو کي بشر ته د مال د لاسته راوړلو او د الهي پاکيزه نعمتونو څخه د ګټي اخيستني له آزادۍ عبارت دئ. په اسلام کي فردي ملکيت شخصي حق دئ، چي په هيڅ صورت کي ګواښ ورته روا نه دئ، ترڅو چي څښتن يې د شرعي کړنلاري څخه اوښتی نه وي او دا هغه امتيازي کرښه ده، چي د اسلام اقتصادي نظام له نورو نظامونو څخه جلا کوي.

د مال تعريف: مال په لغت کي (هو کل ما ملکته من جميع الاشياء) يعني د ټولو شيانو مالک ګرځېدلو ته مال ويل کېږي.

(www.taleemulislam.net)

د ملکيت لغوي معنی او مفهوم: ملکيت د ملک څخه اخيستل سوی دئ، چي جمع يې املاک دي او په لغت کي ملکيت عبارت دئ د دارايي څخه او هر هغه شی چي انسان يې خاوندسوی دئ، يا په بل عبارت ملکيت پر يو مال د انسان تصرف او قبضې ته ويل کېږي.

د فقهي له مخي: تام ملکيت عبارت د هغه ملکيت څخه دئ، چي يوازي د ملکيت خاوند کولای سي، د مانع د نه موجوديت په صورت کي هر راز تصرف په کښي وکړای سي او نور خلک د تصرف کولو څخه منع کړي.

(فضلی، ۱۱، ۱۳۹۲).

يا ملکيت عبارت د هغه شي څخه دئ، چي انسان يې مالک او څښتن وي.

برابره خبره ده، که هغه اعيان وي يا ګټه.

(مجلة الاحکام، لومړی ټوک، ۱۳۸۴، ۵۰).

الله (ج) د سورة الحديد په اووم نمبر آيت شريف کي فرمايي:

ژباړه: پر خدای او رسول ايمان ولرئ او هغه څه نفقه کړئ، چي خدای په کښي خليفه ګان ګرځولي ياست!

همداشان د سورت النور په ۳۳ نمبر آيت شريف کي فرمايي:

ژباړه: ورکړئ له هغه مال څخه چي خدای درکړی دئ.

په صريح ډول حکم کوي، په الهي کتاب کي چي مال د خدای ورکړه بلل سوې ده او د عاريت (ګرځېدونکی) مفهوم په کښي پروت دئ.

دا مطلب هم ښه واضح سوی دئ، په دې مالونو کي چي ظاهرًا خپلو عاريتي خاوندانانو ته منسوب دئ او مجازًا د دوی بلل کېږي، بيا هم يوازي د دوی نه دئ، محرومه طبقه او سوالګر هم حق په کښي لري، يعنی علاوه پر زکات، محروم او سايل (سوالګر) د بډايانو په مال کي د حق خاوندان دي او مشترک مال يې دئ.

نور بيا...

موړ نس، لنډه کيسه

علي محمد احسان

شديدي تبي مي ټول بدن يرغمل کړی و، داسي تبه چي آن مغزو مي د سر په کوپړه کي ټکهار کاوه، ټوله شپه مي د خپل وجود عذاب نندارہ کړ، سهار سو د خدای پور لمونځ مي ادا کړ، تبه مي لا هم هغسي پر ټول وجود واکمنه وه،

بله چاره نه وه بې له پيسو مي ډاکټر ته د تلو پرېکړه وکړه، له کوره ووتم، د ښار واټونه د انسانانو ګڼي – ګوڼي پر سر اخيستې وه، زه خپلي تبي او بې وسۍ پوره بې حوصلې کړی وم، انسانان او د ښار شور مي بد ايسېدی، تر ښه مزل کولو وروسته ډاکټر نه، درملتون ته ورسېدلم.

د درملتون زينو ته مي وارخطا سو، چي ممکن ور پورته نه سم، ولي تبي مي له بدن سره پوره خواري کښلې وه، حوصله مي تازه کړه، زينو ته مي قدم ور واخيستی، په درې واره کښېناستو سره د درملتون انګړ ته ور داخل سوم، خپل پر سر مي انتظار وکړ، انتظار مي بې هدفه هم نه و، له ځان سره مي د يو پاکټ ګوليو خواست تمرين کړ، سترګي مي وايستې، په درملتون کي ناست کس ته ور وړاندي سوم، زړه مي غټ کړ او شرم مي ترک واهه، په درملتون کي ولاړ کس مخته مي پر مېز ځان واچاوه او ورته ومي ويل: ډاکټر صاحب! د مرګوني تبي څخه کړېږم، يو پاکټ ګولۍ په پور راکړه، ډاکټر د هو په نيت سر وښوراوه، ګولۍ يې د مېز پر سر راته کښېښوولې او ويې ويل: دا سهار او ماښام په ماړه نس وخوره، حيران سوم چي موړ نس او بيا زما موړ نس، دا کله کېدای سي، ګولۍ مي بيرته د مېز پر سر کښېښوولې او روان سوم.

شعري او آدب

د طلوع ځلانده ډيوه

مسئوليت

ابو رشيد متقي

مسئوليت کي صداقت ته ضرورت دئ
مسئوليت کي ديانت ته ضرورت دئ

✱✿✱

مسئوليت کي لېونۍ تقوا په کار ده
مسئوليت کي عدالت ته ضرورت دئ

✱✿✱

مسئوليت خو بل څه نه؛ داوړو بار دئ!
د څښتن کامل نصرت ته ضرورت دئ

✱✿✱

مسئوليت کي ښه پوره اخلاص په کار دئ
مسئوليت کي ښه خدمت ته ضرورت دئ

✱✿✱

مسئوليت کي د بې ساري قربانيو
احترام او حفاظت ته ضرورت دئ

✱✿✱

مسئوليت کي خو غرور لکه اجل دئ
عاجزي او شفقت ته ضرورت دئ

غزل

روبين "حسن"

له تنهايي نه مي ځان خلاص کړی په نوښت باندي
ستا تصويران مي رسموله پر بالښت باندي

✱✿✱

يو څو شېبې مي د هوا پر مرۍ لاس ونيوی
غوښتل مي پوه دي کړم د ميني په ارزښت باندي

✱✿✱

زما غوښتنو ته د يا په معنا سر ښوروول
دا د ژليو اورېدل دي نوي کښت باندي

✱✿✱

ستا د يادونو د وريځو له هستۍ مننه
زړه مي ژوندی ساتي د ميني په اورښت باندي

✱✿✱

هغې ويل له هغه اوس ځان او جهان هېر دي
ډېر تمرکز کوي د شعر پر جوړښت باندي

✱✿✱

پر دې بيرېږم چي يو ورځ به مو له زړوو ځي
چي څوک څه نه ليکي د ميني پر کمښت باندي

✱✿✱

"روبينه!" زما به په هغه ګړي کي ته را ياد سوې
چي چا به څه ويل د خلکو پر ګرانښت باندي

څلوريځي

حبيب الله "قلم مل"

د ناپوهۍ پر دښت غوړېږي د ګندېر ګلونه
د پوهي بڼ کي خدايه وټوکوې ډېر ګلونه
سل بهارونه دي قربان سي تر يو داسي خزان
چي راته پاته وي يو څو د ګل په څېر ګلونه

✱✿✱

د بحر پر ساحل خو مرغلري پرتې نه دي
غواص ورپسي ځي مدام و تل د سمندر ته
که غواړې!؟ چي ديدن د ښکلو ښکلو همېش وکړې
په ژړ مازيګري ورځه و غاړې د ګودر ته

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"

د تصحیح مسئول: بسم الله "غرنی"

کمپوز او ډیزاین: نصیراحمد "صابر"

د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳

د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶

پته: علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست

د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | Issue: 30 | Established in 1300 Hijri

افغان اعلانونه

په اجاره یې ورکوي

د کندهار ښاروالي خپل ملکیت، د څوارلسمي ناحیې مربوط، د حضرت جي بابا دوهم شمالي مارکېټ د وسایطو پارکینګ د شرطپاڼي مطابق، د یوه کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لارې په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چې غواړي په داوطلبي کې ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دې د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتې د درېیمې نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر اوولسمې نېټې پورې د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو آمریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د اجارې د سرجمع څخه لس سلنه تضمین نغداً اخیستل کېږي او داوطلبۍ مجلس د همدې میاشتې پر اتلسمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو په آمریت کې د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کې تر سره کېږي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر ذکر سوو شمېرو اړیکه و نیسي:

۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸ – ۰۷۰۰۳۵۴۲۵۶

په کرایه یې ورکوي

د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

یو باب د فوټو کاپۍ ماشین له پاره غرفه چې د کندهار ګمرک ریاست په داخل کي موقعیت لري، یاد د فوټو کاپۍ ماشین غرفه په کرایه د قرارداد په ډول په اجاره/ کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاده غرفه په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د اعلان د نشر څخه بیا د یو ویشتو ورځو پوري دي د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د اسد میاشتي پر څلور ویشتمه نېټه، د سه شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.



د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

یو باب د فوټو کاپۍ ماشین له پاره غرفه چي د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري، یاد د فوټو کاپۍ ماشین غرفه په کرایه د قرارداد په ډول په اجاره/ کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاده غرفه په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د اعلان د نشر څخه بیا د یو ویشتو ورځو پوري دي د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د اسد میاشتي پر څلور ویشتمه نېټه، د سه شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.



د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

یو باب د فوټو کاپۍ ماشین له پاره غرفه چي د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري، یاد د فوټو کاپۍ ماشین غرفه په کرایه د قرارداد په ډول په اجاره/ کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاده غرفه په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د اعلان د نشر څخه بیا د یو ویشتو ورځو پوري دي د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د اسد میاشتي پر پنځه ویشتمه نېټه، د سه شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.



یو باب کانټینر چي د دفتري کار له پاره استفاده ځني کېږي، د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري، یاد دفتري کانټینر په کرایه د قرارداد په ډول په کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاد کانټینر په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د اوومي نېټي څخه بیا د یادي میاشتي تر اته ویشتمي نېټي پوري د (یو ویشتو ورځو) پوري دي د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د اسد میاشتي پر نهه ویشتمه نېټه، د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.

اعتبار نه لري

سلطان احمد د عبدالقدوس زوی، د انفرادي جواز مالک، چي د جواز شمېره یې (۳۲۹۹۰) ده، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

(۱) مخ پاتې: د سوونو تنو زده کوونکو څخه د کانکور ازمايښتي...

کي وویل، ننني نړۍ د تخصص نړۍ ده، هر څوک باید په خپل مسلک کي تخصص ولري او د خپل ذوق مطابق مسلک کي زده کړي تر تخصص پوري وکړي، نو بیا ټولني ته خدمت کولای سي.

د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس ځوانانو ته په خپلو خبرو کي د تاریخ په اوږدو کي د مسلمانانو د علم او تخنیک پر لاسته راوړنو هر اړخیزه وینا وکړه او له ځوانانو یې وغوښتل، چې د علم قدر وکړي، تر څو پخوانی علم او تخنیکونه بیرته لاس ته راوړل سي.

د ښېنوا کانکور مرکز مؤسس انجینر موسی کلیم نظري بیا د کانکور ازمايښتي آزمویني په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، دا ازمايښتي آزموینه به د کانکور په اصلي آزموینه کي ډېري اسانتیاوي درته برابري کړي.

(۱) مخ پاتې: په بېلابېلو ولایتونو کي د سړکونو د بیارغولو چاري پیل...

ورګرام ولسوالۍ اړوند زیارت کلي سړک د یو کېلو مترو په اوږدوالي بیارغول کېږي چي چاري یې رسمًا پیل سوي دي.

سرچینې زیاته کړې ده، چې د یادو سړکونو په بیارغولو سره سوونو کسانو ته کاري زمینه هم برابره سوې ده.

د یادوني وړ ده چي په یاد ولایت کي ۵۵ بې وزلو کورنیو ته به د لس زره افغانیو معادل، خوراکي توکي هم ووېشل سي.

د بل خبر له مخي د هرات د صنعتي ښارګوټي پر عمومي سړک، د ډامبر اچولو پروژه پرانیستل سوه.

دغه سړک ۴۶۰ متره اوږدوالی او ۱۸ متره سور لري او د ګذرې ولسوالۍ د ښاروالۍ له خوا جوړېږي، چي ۱۳ میلیونه او ۲۰۰ زره افغانۍ لګښت پر راځي.

صنعتکاران د دې سړک د پخولو د کار د پیل هرکلی کوي او د دوی د تولید بهیر یې اسانه کړی دئ.

همداراز په بادغیس ولایت کي د ۲۵ کېلو مترو په اوږدوالي د قیصار–لامان حلقوي سړک د څلورمي برخي د پخولو چاري پیل سوي دي.

د یاد سړک چارو د پیل په مراسمو کي د بادغیس والي مولوي عبدالصمد جاوید ویلي، یاد سړک د غورماچ ولسوالۍ له دوابي سیمي څخه د بالامرغاب ولسوالۍ تر مرکز پوري غځېدلی، چي ۲۵ کېلومتره اوږدوالی لري.

جاوید زیاته کړه، د قیصار–لامان حلقوي سړک پخول یې له کاري لومړیتوبونو څخه وو، چي له نېکه مرغه د څلورمي برخي د پخولو چاري نن پیل سوي او لګښت یې د اسلامي امارت له لوري ورکول کېږي.

په ورته وخت کي پر یاده لاره یو موټر چلوونکی عبدالعزیز ویلي، د سړک د خرابوالي له امله د خلکو او ناروغانو د تګ–راتګ په برخه کي له زیاتو ستونزو سره مخ و، چي په پخېدو سره به یې سته ستونزي هواري سي.

د یادوني وړ ده، چي څه موده وړاندي د دې سړک د درېیمي برخي د پخولو چاري د بالامرغاب ولسوالۍ د زاړه پُل له سیمي څخه د دې ولسوالۍ تر مرکز پوري د ۶۵ کېلومتره په اوږدوالي پیل سوي وې.

(۱) مخ پاتې: د افغاني تولیداتو نندارتون په قزاقستان کي...

چارواکو او خصوصي سکټور د رسمي کتنو او یو شمېر نورو مسئلو او پرمختګونو په اړه خبري وسوې.

په خبرپاڼه کي راغلي، چي په دې ناسته کي د صنعت او سوداګرۍ وزارت د نندارتونونو د تنظیم رئیس د نندارتون د موقعیت، د هیواد خصوصي سکټور ته د ۷۰ غرفو د تخصیص، نندارتون ته د خصوصي سکټور د ملکیتونو د انتقال د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړل.

سرچینې زیاته کړې ده، چي په دې غونډه کي د صنایعو او سوداګرۍ وزارت سرپرست، په تخصصي توګه د خصوصي سکټور د ونډې او له نړۍوالو معیارونو سره سم د لا زیاتو تجربو د ترلاسه کولو یادونه وکړه او د افغانستان محصولاتو او توکو ته د بازار موندني، د هیواد له محصولاتو او تولیداتو سره د قزاقستان پر پېژندګلوۍ، د افغانستان او قزاقستان تر منځ د سوداګرۍ پر زیاتوالي او د هیواد د صادراتو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.

ټاکل سوې ده، چي د افغانستان او قزاقستان رسمي پلاوي او د دواړو هیوادونو د خصوصي سکټور ترمنځ، د سوداګریزو اړیکو کنفرانس هم جوړ سي.

قرارداد کوي

د سپین بولدک ښاروالي غواړي، چي د څوارلس مالي کال د تدارکاتي پلان پر اساس، د عراده جاتو او جنراتورونو له پاره د ډېزلو او پطرولو قرارداد وکړي. ټول هغه شرکتونه چي د دې قرارداد د سر ته رسولو وړتیا ولري او پر شرایطو برابر وي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د پنځمي نېټي د روان کال د یادي میاشتي تر یو ویشتمي نېټي د شنبې تر ورځي پوري د سپین بولدک ښاروالۍ ته وسپاري او داوطلبي د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي پر دوه ویشتمه نېټه، د یکشنبې په ورځ د سهار پر لس بجې د دتعین سوي په حضور کي د کندهار ولایت مقام د مالي او اداري ریاست کي صورت نیسي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر ذکر سوې شمېره اړیکه ونیسي: ۰۷۰۰۳۰۱۵۴۱

په کرایه یې ورکوي

یو باب کانټینر چي د دفتري کار له پاره استفاده ځني کېږي، د سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کي موقعیت لري، یاد دفتري کانټینر په کرایه د قرارداد په ډول په کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاد کانټینر په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د اوومي نېټي څخه بیا د یادي میاشتي تر اته ویشتمي نېټي پوري د (یو ویشتو ورځو) پوري دي د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د اسد میاشتي پر نهه ویشتمه نېټه، د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي د املاکو په عمومي مدیریت کي تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.

په اجاره یې ورکوي

د کندهار ښاروالي خپل ملکیت، د څوارلسمي ناحیې مربوط، د حضرت جي بابا اول شمالي مارکېټ د وسایطو پارکینګ د شرطپاڼي مطابق، د یوه کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لارې په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چې غواړي په داوطلبي کې ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د اتمي نېټي څخه بیا د همدې میاشتي تر دوه ویشتمي نېټي پوري د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو آمریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د اجارې د سرجمع څخه لس سلنه تضمین نغداً اخیستل کېږي او داوطلبۍ مجلس د همدې میاشتي پر درویشتمه نېټه، د دوشنبې په ورځ د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو په آمریت کي د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي تر سره کېږي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر ذکر سوو شمېرو اړیکه ونیسي:

۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸ – ۰۷۰۰۳۵۴۲۵۶